ښــاغلي راشد له ټولو مشرانو وغوښــتل چې د ښاري نظم ټینګښت، بیارغونې، صفایۍ محصول او په عمومي ډول د ښار پاک ساتلو کې د تېر په څېر خپله همکاري وساتئ، تر څو په ګډه خپل ښــار په یو بشپړ معیاري ښار بدل کړو.

ورپســې، د ښــاري اصنافو شــبکې غړو په نوبتي ډول د ښــاروالۍ روان فعالیتونه وســتایل، او خپلې غوښتنې او وړاندیزونه یې شریــک کړل، چې د صنفي جواز او صفایۍ محصول د قیمت لوړوالي، د ښــار څخه د ځینو صنفونو د انتقــال، د لاس ګاډو زیاتوالي، د بې‌نظمــۍ، د نانوایانو د آزاد بــازار او دیته ورته نور موضوعات وو، چې ورباندې ازاد بحث وشو.

د یادونې وړ ده چې د اصنافو شــبکه د ښاري نظم ساتلو، ښــار کې د ښــاروالۍ د قوانینو د تطبیق، او د ښاریانو د ســتونزو د شریکولو په موخه رامنځته شوې ده، چې د هر صنــف لپــاره د هماغه صنــف د کاروباریانو لــه لوري یو اســتازی ټاکل شــوی، او دوی خپلې چارې د ښاروالۍ د اصولو مطابق پر مخ وړي.

**براســاس پلان منظم و در چارچــوب فعالیت‌های روزمرۀ شــاروالی قلعه‌نو ولایت بادغیس، عملیات تخلیه ســاحات مزدحم به‌گونه مؤثر ادامه یافت که براساس آن، بازار گنج، بندر هرات و بازار سرخابی ها از موانع و ازدحام پاک‌سازی گردیده و مسیرهای پیاده‌رو برای رفت‌وآمد عابرین بازگشایی شد.**



بادغیس ۴۸

## فراه کې د ۴ میلیونه افغانیو په شخصي لګښت د اناردرې په نوم څلور لارې بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه



فراه ۴۹

فراه کــې د دغه ولایــت د والي مولوي غــوث الدین رهبر، ښاروال ښاغلي مفتي سردار محمد مرصاد، هرات کې د ایران هېواد سرکنســل علي رضا مرحمتي، په فراه، نیمروز او هرات ولایتونو کې د اناردرې ولســوالي د شوراګانو او یو شمیر نورو مســؤلینو په ګډون د ۴ میلیونه افغانیو په شخصي لګښت، د ۱۲ متره د اوږدوالي، ۸ متره ســور او ۱۸ متره د لــوړوالي په درلودلــو سره د اناردرې پــه نوم څلور لارې بشــپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارله شوه.

د دغې څلور لارې د پرانیســتې پر مهال د فراه والي مولوي غوث الدین رهبر د اناردرې ولســوالي له اوسیدونکو او په تیر شل کلن جهادي بهیر کې له مجاهدینو سره د فراهي وګړو د اوږه پر اوږه له درېدلو څخه د مننې او ستاینې ترڅنګ له ټولو ملي سوداګرو څخه هم د ا.ا.ا د ټینګښت، ثبات او د هېواد د ودانولو په برخو کې د چټکو ګامونو د اخیستلو غوښتنه وکړه.

نوموړي همدارنګه زیاته کړه، چې د دغې څلور لارې جوړول د کار پای نه دی، بلکې هیله یې وښوده ترڅو یاد ملي سوداګر نورې ورته پروژې هم پلي او ګټې اخیستنې ته وسپاري.

په ورته وخت کې د فراه ښــاروال ښاغلي مفتي سردار محمد مرصاد بیا د اناردرې ولســوالي له اوســیدونکو څخه د مننې ترڅنګ وویل؛ د دغې څلور لارې جوړول د ا.ا.ا ترڅنګ د ملي سوداګرو د ملاتړ او دریغ نښه ده، چې د ولس او حکومت ګډه همکاري ښیي.

بل خوا په فراه کې د اناردرې ولسوالي د شورا رئیس بسم الله نیکــزاد بیا وویل؛ چې دغه څلور لارې یې د ۴ میلیونه افغانیو په ارزښت په ٦ میاشتو کې جوړه کړې ده.

ښاغلي نیکزاد همدارنګه په هېواد کې د ډاډمن امنیت له ټولو ملي ســوداګرو څخه وغوښــتل؛ چې د هېواد په ودانولو کې بشــپړه ونډه واخلي، ځکه په وینا یې اوس په هېواد کې د هر اړخیزې پانګونې وخت را رسیدلی دی.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

رغونه اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی با کارکنان تنظیف ریاست شاروالی مزارشریف دیدار کرد




استاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی ریاست شاروالی مزارشریف با کارکنان تنظیف و سرسبزی با حضور داشت مولوی اختر محمد هنر آمر تنظیف و سرسبزی شاروالی مزارشریف دیدار و گفتگو کرد.

استاد محمد جاوید مایار، از کارکرد های آمریت تنظیف و سرسبزی ریاست شاروالی مزار شریف ابراز خرسندی نمود و از دست‌آورد های آمریت تنظیف و سرسبزی توصیف کرد و در پاکی، صفایی و مراقبت از سرسبزی شهر مزار شریف تأکید ورزید.

مولوی اختر محمد هنر آمر تنظیف و سرسبزی شاروالی مزارشریف از کار بهتر آمریت تنظیف و سرسبزی اطمینان سپرد.

## دتورخم ښاروالۍ سرسبزي مدیریت له خوا د ښار ښکلا او چاپېریال پاک ساتنې اقدامات ترسره شول




د تورخم ښاروالۍ سرسبزی مدیریت له خوا د ښار ښکلا او چاپېریال پاک ساتنې په موخه د سرسبزۍ اړوند اقدامات ترسره شول.

تورخم ښاروالۍ سرسبزی مدیریت له لوري د ډکې، ګردي او تورخم بازار د دواړو سړکونو په منځ کې موجود ګل‌دان او زرغون بوټي په منظم ډول خروب کړل . دا پروسه د بوټو د وچېدو مخنیوي، ښایست . ښکلا او دوامدار سرسبزي لپاره په دوامداره ډول ترسره کېږي.

تورخم پارکونو چمنونه د اړتیا سره سم عڅول کېږي ترڅو ښایسته او منظم شکل غوره کړي. دا چارې پارکونو د ښایست، پاکوالي او د ښاري وګړو د آرامتیا او هوساینې لپاره ترسره کېږي.

همداراز، زرغونې بوټو قیچي کولو چارې هم دوام لري، تر څو بوټي منظم شکل غوره کړي او د غیر ضروري پراخوالي مخه ونیول شي.

یاد اقدامات د ښاري ښکلا، سرسبزي، د چاپېریال پاک ساتنې او ښاري اتباعو لپاره د یو آرام چاپېریال رامنځته کولو په موخه ترسره کېږي.

## رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف از عریض سازی سرک از چوک کفایت الی سرک حلقوی پروژه اس نظارت نمود




استاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف به منظور ایجاد تسهیلات بیشتر کار برای شهروندان مزارشریف از پروژه اسفالت و عریض سازی سرک از چوک کفایت الی گذشته از سرک حلقوی پروژه اس نظارت نمود.

مولوی محمد عوض وثیق مدیر عمومی ترافیک ولایت بلخ، گل احمد آغا گلاب آغا معاون آمریت امنیت قومندانی ولایت بلخ، ملا راز محمد عرفان آمر حوزه چهارم امنیتی پولیس، مولوی رحمت الله قاعد آمر ناحیه چهارم شاروالی مزارشریف و رئیس شرکت سهاک هیله نیز حضور داشتند.

رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف در جریان نظارت از پروژه اسفالت و عریض سازی سرک مذکور گفت که کار این پروژه را سرعت دهید و در دو شفت کاری کارهای خویش را انجام دهید تا باشد تردد وسایط نقلیه مانع کارهای عریض سازی سرک مذکور نگردد.

همچنان آقای مایار سرک حلقوی پروژه اس الی چهارراهی ابوبکر صدیق را با کارکنان تنظیم مارکیت های شاروالی و ناحیه چهارم شاروالی از وجود کراچی های متحرک پاک سازی نمودند و در دو اطراف سرک مذکور در جاهای معین ترتیب و تنظیم کردند.

مدیر عمومی ترافیک از عبور و مرور وسایط نقلیه در زمینه همکاری با ریاست شاروالی مزارشریف یک خط خروجی شهر باز و آمد را مسدود نمود و مسیر شان را از سرک حلقوی پروژه اس الی چوک ابوبکر صدیق برای سرعت بخشیدن کار پروژه مذکور تعین نمود.

گل احمد آغا گلاب آغا معاون آمریت امنیت قومندانی ولایت بلخ همکاری همیشگی خود را با ریاست شاروالی مزارشریف اظهار نمود و نیز می‌گوید که قومندانی امنیه ولایت بلخ در زمینه بازسازی شهر با ریاست شاروالی مزارشریف همکاری همه جانبه می‌نمایند.

## کار پروژه آسفالت جاده عمومی شهرک صنعتی واقع ولسوالی گذره ولایت هرات، از سوی شاروالی این ولسوالی به سرعت جریان دارد که اکنون در مرحله بیسکورس قرار دارد و قرار است بزودی کار قیر ریزی آن آغاز گردد.




## د کندهار ښار په دولسمه ناحیه کې له متنفذینو، علماوو، مشرانو او د ولس له استازو سره د همږغۍ او د اسلامي نظام د ملاتړ په موخه مجلس ترسره شو




د کندهار ښاروالۍ له لوري، د ۱۲ ناحیې په امریت کې له متنفذینو، علماوو، مشرانو او ګذر وکیلانو سره د همږغۍ او د اسلامي نظام د ملاتړ په موخه مجلس ترسره شو. په دغه مجلس کې د کندهار ښاروالۍ حقوقي او شرعي مشاور، د شوراګانو او مجالسو مدیر، د دعوت او ارشاد امر، د عوایدو امر، د دعوت او ارشاد مدرس، د ناحیې او حوزې امرینو، او د ناحیې ګذر وکیلانو، مشرانو او متنفذینو ګډون کړی وو.

یاد مجلس د قرانکریم په تلاوت او د حدیث شریف په ویلو سره پیل شو، په پیل کې د کندهار ښاروالۍ حقوقي او شرعي مشاور د اسلامي حکومتولۍ پر اساساتو او د اسلامي نظام پر ارزښتونو هر اړخیزې خبرې وکړې.

نوموړي وویل: دا د الله تعالی یو ستر نعمت دی، چې موږ یې د یو اسلامي نظام تر چتر لاندې راټول کړي یو. د اسلامي نظام ټول احکام او فرامین شرعي دي، چې هیڅ شک په کې نشته. دا نظام یوازې د شریعت په رڼا کې پر موږ احکام تطبیقوي او د ټولو احکامو معیار یې اسلامي شریعت دی.

هغه د خپلو خبرو په پای کې اسلامي نظام د ټولو ګډ کور وباله او د دې نظام ساتنه یې د هر وګړي مسؤلیت یاد کړی. نوموړي ټینګار وکړ موږ باید د اسلامي نظام له هر ارګان سره همکاري وکړو، ملاتړ یې وکړو او تر شا یې ودرېږو.

همدارنګه، نوموړي له خلکو وغوښتل چې له ښاروالۍ سره د صفایي محصول، سرسبزی او تنظیف په برخو کې فعاله همکاري وکړي.

وروسته د ښاروالۍ د دعوت او ارشاد مدرس ګډون والو ته د اسلامي نظام د ټینګښت، د اوامرو د منلو او اسلامي وجایبو د ادا کولو په اړه مهمې خبرې وکړې.

په مجلس کې د ۱۲ حوزې امر هم د ولس د استازو په وړاندې خبرې وکړې او له هغوی څخه یې د اسلامي نظام د ملاتړ او همږغۍ غوښتنه وکړه.

په پای کې د ۱۲ ناحیې ګذر وکیلانو،مشرانو او علماوو دخپلو سیمو ستونزې، نظریات او مشورې له مسؤلینو سره شریک کړې او مسؤلینو هم د هغوی خبرې واورېدې او د ستونزو دحل لپاره یې ژمنه وکړه.

## د مهترلام ښاروالۍ د لومړۍ ناحیې له ګذر وکیلانو سره د همغږۍ ناسته وشوه




لغمان ۵۵

د مهترلام ښاروالۍ د لومړۍ مدیریت له لوري د یادې ناحیې له ګذر وکیلانو سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه.

په یاده ناسته کې د ناحیې مدیر ښاغلي ملا عباس ابراهیمي له ګـذر وکیلانو غوښـتنه وکړه چې په خپلو سـیمو کې د ښـاروالۍ له کارمندانو سره د فورمو په ویشـلو او د ښـاري خدماتو محصول په راټولو کې همکاري وکړي.

همدارازنوموړي زیاته کړه چې ښـاروالۍ یوه تصدي اداره ده چې خپل عواید له ښاریانو څخه راټولوي او بیرته د ښاریانو د سهولت لپاره په مصرف رسوي.

ګذر وکیلانو د ښاروالۍ له فعالیتونو خوښي وښوده او خپل یو لړ سـتونزې یې د حـل په موخه د ناحیې لـه مدیریت سره شریکې کړې.

پـه پای کې د ناحیې مدیر ټولو ګذر وکیلانو ته ډاډ ورکړ چې ستونزو ته به یې په وخت رسیدنه کوي.

## کار کانکریت ریزی یک سرک در ناحیه اول شهر مزارشریف جریان دارد



بلخ ۵۶

کار کانکریـت ریـزی سرک عقب مکتب سـلطان راضیه به هزینه حدود یک میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی به طول ۱۳۰ متر و عرض ٦ متر در ناحیه اول شهر مزارشریف با حضور رئیس سـکتوری و تخنیکی شـاروالی مزارشریف آغاز گردید.

اسـتاد محمـد جاوید مایـار، رئیس سـکتوری و تخنیکی شاروالی گفت: کار کانکریت ریزی جویچه ها، کندن کاری، هموار کاری و بستر سازی تکمیل و کانکریت ریزی آن تحت نظر انجنیران مؤظف شاروالی مزارشریف آغاز گردید که روزانه برای چندین تن شـهروند زمینه اشتغال زایی نیز فراهم شده است.

با ساخت سرک های مذکور تسهیلات بیشتر برای عبور و مرور ترافیک و شهروندان این ساحه فراهم خواهد شد و شهروندان ساحه متذکره از کارکردها و فعالیت های شاروالی مزارشریف سـتایش نمودند و از سـاخت سرک مذکور ابراز خرسـندی کردند.

## ښرنې ښـاروالۍ د ۲.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د دریو پروژو پرانیسته وکړه



پکتیکا ۵۷

ښرنې ښاروالۍ ریاسـت نن ورځ د ۲.۸ میلیونه افغانیو په ارزښـت ښـار کې د دریو پروژو د پرانیستې مراسم ترسره کړل، پکتیکا والي ښرنې ښاروال د یو شمېر ادارو رئیسانو او قومـي مخورو، د بازار اتحادیې او مشـورتي بورډ غړو په دغو مراسمو کې برخه درلوده.

پکتیـکا والي الحاج مولوي عبدالخالـق "عابد" د پروژو د پرانیسـتي مراسـمو تـه د خبرو پرمهال وویـل، د ویاړ او خوشـالۍ ځای دی، چې د خپلو ولسـوالیو پـه منځ کې د هیواد د ابادۍ رغونې او پرمختګ لپاره کار کوو.

نوموړي ښـرنه ښـاروالۍ ریاست د خپل ښـار د رښتینې خدمت پـه برخه کې یوه ژمنـه اداره وبلله او د دوی روان فعالیتونـه یې د ښـار د پراختیا ښـکلا، او ترافیکي نظم اساسي ودې لپاره مهم وباله.

ښرنې ښـاروال الحاج مولوي سرداروليِ "ثابت" وویل، یادې پروژې د ښـار په دوهمه ناحیه کې د کټواز په مسیر د ۲۲۰ متره په اوږدوالي او ۲.٦۰ متره په پلنوالي یوه جویچه ده، چې د (۱٦۰۹۸۰۰) افغانیو په ارزښت په اساسي ډول جوړیږي.

دوهمه پروژه د ښـار په لومړۍ ناحیه کې د غزني په مسیر اووه بابه عامه تشـنابونه دي، چې (۸۷۰۲۰۵) افغانیو په ارزښت په پاخه او اساسي شکل جوړېږي او دریمه پروژه د ګردیز په مسیر یـوه څلور لاري ده، چـې د اووه متره په جګوالي سره د (۳۱۳۵۰۰) افغانیو په ارزښـت په اساسي شکل او ښکلي ډیزاین سره جوړیږي.

ښاغلي "ثابت" یادي پروژې د ښاریانو لویه اړتیا او د ښار د پرمختګ، ښـکلا او ترافیکي نظم په برخه کې مهمې وبللې او ډاډ یـې ترګندد کړ، چې د ښـاروالۍ ټولې پروژې به په خپل وخت د نقشـې او ډیزاین سره سـم په اساسي ډول سرته ورسیږي.

د ښاریانو په اسـتازولۍ د بازار اتحادیې مشر حاجي اکبر وویل، د یادو پروژو په تطبیق سره به د ښـار ښه معیاري او مثبته ښه غوره کړي او د ښـاریانو سـتونزې به تر یوه حده ورسره هواري شي.

ښاغلي اکبر د ښرنې ښـاروالۍ ریاست هڅې، فعالیتونه او ښـاري خدمتونه معیاري، د خلکو د اړتیا مطابق او شفاف وبلل او په دې برخه کې یې د یادې اداري کړنې وستایلې.

> د پکتیا ولایت په تنیو ولسوالۍ اړوند د سیګې سړکونو او کوڅو د هوارسازۍ چارې د ښوونکو ښار ګوټي کې د سړکونو او کوڅو د هوارسازۍ چارې په منظم شکل رواني دي دغه مالي لګښت د تنیو ولسوالۍ ښاروالۍ امریت څخه ورکول کیږي.
>
> پکتیا ۵۸

## د قره‌باغ ولسوال د بازار له وضعیت څخه ځارنه وکړه




قره باغ ۵۹

د قره‌باغ ولسوال محترم شیخ محمد شیرین سحاب د ښاروال محترم مولوي معاذالله معاذ په ملتیا د قره‌باغ ولسوالۍ د بازار له ټولو برخو لیدنه وکړه.

یاده لیدنه د بازار د نظم او تنظیم د لا ښه والي، د ترافیکي سـتونزو د حل او د ښـاري چاپېریال د سـمون په هدف ترسره شوه.

د ولسـوال او ښـاروال لهخوا ټولو دوکاندارانو، کاروباریانو او ښـاریانو ته جدي سپارښتنه وشوه چې د بازار نظم ته درناوی وکړي، خپل توکي دې په مشخصو، اصولي او قانوني ځایونو کې کېږدي، کـوم چې د تنظیم مدیریـت لهخوا مخکې له مخکې ټاکل شوي دي.

د یاد اقدام موخه دا ده چې د بازار بې‌نظمۍ مخه ونیول شي، ترافیکي بهیر عادي وسـاتل شي، مسافرین په ارامه او منظم چاپېریال کې د قره‌باغ له ښار څخه تېر شي، او همدارنګه د ښـاري کلتـور او ارزښـتونه ټولو میشـتوته ښـاریانو ته وروپېژندل شي.

## پیشرفت ۸۰ درصدی پروژه دروازه ورودی شـهر رسـتاق ولایت تخار



تخار ٦۰

عبدالحکیم "حق‌پرست" شاروال رستاق ولایت تخار، همراه با انجنیران اداره، از پروژه سـاختمانی دروازه ورودی شـهر به هدف بررسی مواد ساختمانی از جریان کار این پروژه نظارت و بازدید نمود.

## کندهار ښاروالی د دریمې ناحیې له اوسېدونکو سره دښاري خبرو اترو مجلس ترسره کړ




د کندهار ښاروالی اړوند د ټولنیزو او فرهنګي چارو امریت له لوري نن سه شنبه د کندهار ښاروالی دغونډو په تالار کې د دریمې ناحیې له اوسېدونکو سره د ښاري خبرو اترو مجلس ترسره شو.

په یاد مجلس کې د کندهار ښاروالی د مسؤلینو ترڅنګ د بریښنا چاپېریال ساتنې امنیتي استخباراتي ادارو مسؤلینو او استازو د دریمې ناحیې ګذر وکیلانو مشرانو او علماوو ګډون کړی وو.

مجلس د قران کریم دخو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوو، وروسته د کندهار ښاروالی د ټولنیزو او فرهنګي چارو امر ټولو ګډون والو ته د ښه راغلاست وینا وکړه او د ښاري خبرو اترو دمجالسو پر موخو او اهمیت یې رڼا واچوله.

نوموړي زیاته کړه، چې د دې مجالسو له لارې د ناحیو اوسېدونکي کولای شي، چې دخپلې ناحیې اړوند ستونزې، غوښتنې او وړاندیزونه په مخامخ ډول له اړوندو مسؤلینو سره شریک کړي.

وروسته د ۳ ناحیې اجرائیه مدیر د یادې ناحیې اړوند د ۱۴۰۳ او روان ۱۴۰۴ کال د راټول شوو عوایدو، او پلان شوو انکشافي خدماتو، د سرسبزۍ او تنظیف د روانو فعالیتونو په اړه ګډون والو ته مفصل معلومات وړاندې کړل.

په همدې ډول د مجلس په جریان کې د اړوندو ریاستونو استازو هم خپل فعالیتونه په تفصیل سره برخه والو ته بیان کړل.


د بریښنا ریاست استازي د نوي صندوقونو او پایو دنصبولو، د چاپېریال ساتنې ریاست استازي د یاد ریاست د ترسره شوو کړنو او راتلونکو پلانونو او د استخباراتي اداري استازي د ناحیې د امنیتي وضعیت په اړه تفصیلي معلومات وړاندې کړل.

په پای کې د دریمې ناحیې ګذر وکیلانو، متنفذینو او علماوو د خپلې ناحیې پر ستونزو او مشکلاتو خبرې وکړې او ترڅنګ یې خپلې پوښتنې، غوښتنې، ستونزې او وړاندیزونه دکندهار ښاروالی له مسؤلینو او د یادو ریاستونو له استازو سره شریک کړي، چې اړوند مسؤلینو ورته په تفصیل سره جوابونه ورکړل.

شاروالی گذره ولایت هرات امروز چهارشنبه (۱۵ اسد) به هدف تحقق هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی رنگ یونیفورم کارکنان بخش تنظیف و سرسبزی را از نارنجی به سبز تغییر داد که در این راستا، ۳۵ دست لباس سبز رنگ که با فضای سبز طبیعت هماهنگ است، بین کارکنان توزیع گردید.

هرات ٦٢

## د محمودراقي ښاروالی د ۱۴۰۴ مالي کال د لومړی ربعې د ترسره شوو فعالیتونو په اړه معلوماتي غونډه ترسره شوه




د کاپسا ولایت محمودراقي ښاروالی د ۱۴۰۴ مالي کال د لومړی ربعې د ترسره شوو فعالیتونو په تړاو معلوماتي غونډه د محمودراقي ښاروال محترم مولوي عبیدالله "حسام"په حضور او د دولتي ادارو رئیسانو، د ولسوالیو ښاروالانو، د دولتي ادارو استازو، د رسنیو استازو، د ګذر وکیلانو، علماوو او قومي مخورو په ګډون ترسره شوه.

غونډه د قرآن کریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د کار او ټولنیزو چارو رئیس محترم مولوي محمد الیاس "خلیل" خبرې وکړې، د ښاروالی له کړنو یې خوښي څرګنده کړه او د دولت له خوا ملت ته حساب ورکول یې د عدالت او شفافیت د رامنځته کولو مهم ګام وباله.

د اصنافو استازي د ښاروالی له فعالیتونو یې ستاینه وکړه او له ښاروالی څخه یې د بازار د پراخوالي غوښتنه وکړه.

د غونډې په بله برخه کې د ښاروالی اړوندو کارکوونکو لخوا د سلایډ (پریزنټېشن) له لارې ګډونوالو ته د ښاروالی د لومړی ربعې فعالیتونه، د عوایدو راټولولو څرنګوالی، لګښتونه، پروګرامونه او پروژې تشریح او وړاندې شوې.

په پای کې، د محمودراقي ښاروال محترم مولوي عبیدالله "حسام" ګډونوالو ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ له دوی له راتګ څخه مننه وکړه او د ښاري پلانونو په تطبیق کې یې د اصنافو او دولتي ادارو د لازیاتو همکاریو غوښتنه وکړه. همدراز د بازارونو او دښار د پراخوالي پر اړتیا هم ټینګار وکړ.

او همدارز د غونډې په وروستی برخه کې ۸ تنو د ګذر وکیلانو ته تصدیق پاڼې هم وویشل شوې.

## آبروهای سطح شهر سرپل طبق پلان مدیریت تنظیف و سرسبزی ریاست شاروالی شهر سرپل پاک‌سازی گردید




مدیریت تنظیف و سرسبزی ریاست شاروالی شهر سرپل، روند پاک‌سازی داخل آبروها در نقاط مختلف شهر را به گونه دوامدار و همه‌روزه مطابق پلان منظم انجام می‌دهد.

هدف از این اقدام، بهبود وضعیت محیط زیست شهری، جلوگیری از بندش آب‌ها و تأمین سهولت در رفت‌وآمد شهروندان می‌باشد که کارکنان زحمت‌کش مدیریت تنظیف با استفاده از وسایل و امکانات موجود، آبروهای سطح شهر را از وجود زباله‌ها و مواد اضافی پاک‌کاری می‌نمایند.

شهروندان شهر سرپل با ابراز خرسندی از این اقدام ریاست شاروالی، همکاری لازم را در حفظ نظافت محیط زیست شهری انجام داده اند.

همچنان ریاست شاروالی شهر سرپل متعهد است تا با ادامه این برنامه‌ها، خدمات بهتری را در راستای رفاه شهروندان کشور ارائه نماید.

## جلال آباد کې د «۱۵.۷» میلیونو افغانیو په ارزښت د دوو پروژو د پرانیستې مراسم ترسره شول




د جلال آباد ښاروالی اتمه ناحیه کې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د UNOPS موسسې په تخنیکي همکارۍ د اتمې ناحیې په ۳۱ او ۳۵ ام ګذرونو کې د ۱۷۹۰ مترو په اوږدوالي، د ٦ مترو په لنډوالي د سړک او ویالو جوړولو د پرانیستې مراسم ترسره شول.

په یادو مراسمو کې د جلال آباد ښاروالی مرستیال مولوي محمد اسحاق سعید، د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس انجنیر وحیدالله مخلص، د تنظیف او سرسبزی امر حضرت علي اغا ، د ښار او ارزونې امر فتح الله حمزه، د ناحیې امر مولوي رحمت الله فاروق، د ګذر وکیلانو، مشرانو او د سیمې اوسېدونکو ګډون کړی وو.

مرستیال ښاروال د یونپس همکارې موسسې له مسوولینو منننه وکړه چې د خپلو پروژوي خدمتونو په لړ کې د اتمې ناحیې په یادو ګذرونو کې د دوو نوموړو د جلال آباد ښاروالی له لوري د پروژو د پلي کولو په برخه کې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ او له ولسونو یې د یادو پروژو د ساتنې په برخه کې د همکارۍ غوښتنه وکړه.

د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس د پروژې په تخنیکي برخو خبرې وکړې او د ښاروالی له لوري یې د تخنیکي ټیمونو په مرسته د دوامداره نظارت ډاډ ورکړ.

په دغه پروژه کې د سړک ترڅنګ ۵۹۰ متره سنګاري شامله ده. چې د سیمې شاوخوا ۲۰۰۰ کسانو ته په موقت ډول د کار زمینه مساعده شوې. ۱۵.۷ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راغلې چې د نړیوال بانک له لوري ورکول کېږي. یادې پروژې به په راتلونکي درې نیمو میاشتو کې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د سیمې اوسېدونکو د جلال آباد ښاروالی تر چتر لاندې د یادو پروژو په ترسره کولو خوښي وښوده او په راتلونکې کې یې د لا نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

د دې پروژو د تطبیق موخه د افغانستان په ښارونو او کلیو کې د لنډ مهاله کاري فرصتونو او بېړنیو لومړني خدمتونو وړاندې کول او د داخلي بې ځایه شوو او له ګاونډیو هېوادونو څخه راستانه شوو کډوالو لپاره د کار کولو زمینه برابرول دي.

د جلال آباد ښاروالی رهبري هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو موسسو په مرسته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.

## د میدان ښار ښاروالۍ له لوري مشورتي بورډ نوبتي ناسته ترسره شوه




میدان وردګ ۶۶

د میدان ښـــار ښاروال ښاغلي ملا رازمحمد فاروقي په مشرۍ د مشورتي بورد نوبتي ناسته ترسره شوه.

یاده ناســـته چې د ښاروالۍ ریاست مقام کې تنظیم شوې وه د ښـــاري ستونزو د حل، پرمختیایي طرحو، او د ښاري نظم د ټینګښت موضوعاتو پکې بحث وشو چې مهم تمرکز د ښار په بېلابېلو ساحو کې د نیمه نیمګړې لوړپوړیزو ودانیو د جوړولو تنظیم، ارزونه او د ښاري فرهنګ د پیاوړتیا پر لارو چارو وو.

ښاغلي فاروقي د ښاري فرهنګ د دود کولو او ښاریانو د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د یوې ګډې برنامې له مخې د ټول ښار په کچه د پوهاوي پروګرام د پیل خبر ورکړ.

د مشـــورتي بورډ غړو د یادو موضوعاتو په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړل او د ښاروالۍ له پلانونو سره سم یې د هر اړخیزې همکارۍ ژمنه وکړه.

## د ننګرهار ولایت مهترلام ښار کې د اسد ۲۴مې د ملي ورځې نمانځنې په موخه د بیرغونو لګولو بهیر روان دی



ننګرهار ۶۷

د اســد د ۲۴مې ملي ورځې په مناسبت، چې د مجاهدینو د بریـــا او د امریکایي اشـــغالګرو د ماتې له تاریخي ورځې سره سمون لري، مهترلام ښـــاروالۍ د ښار په بېلابېلو برخو کې د بیرغونو د لګولو لړۍ پیل کړې ده.

په دې لړ کې د ښـــار مهمې څلورلارې، چوکونه، درې لارې، تنویري پایې او نور عامه ځایونه شامل دي چې په ټولو اړونده ساحو کې به بیرغونه ولګول شي.

مهترلام ښـــاروال الحاج مولوي رحمت الله شـــهامت وایي، د بیرغونو لګولو دغه بهیر د ښـــار له بېلابېلو ســـاحو څخه پیل شوی او د اسد د ۲۴مې ورځې تر پای پورې به دوام ولري.

همدارز ښـــاروال زیاتوي، چې د بیرغونو د لګولو دغه چاره د ښاري ښکلا ترڅنګ د دې ورځې ملي ارزښت ته د درناوي په موخه ترسره کیږي.

یـــاده دې وي چې د اســـد ۲۴مه، د افغان ملـــت د قربانیو، سربښـــندنو او خپلواکۍ د بیا ترلاسه کولو ورځ ده چې هر کال په ټول هېواد کې د ویاړ، ملي غرور، او خاصو شانداره مراسمو سره نمانځل کېږي.

## انتقال ۷۰۰۰ نفر از هم‌وطنان برگشت‌داده‌شـده از مرز اسلام قلعه به شهر هرات



هرات ۶۸

در یک اقدام مشترک باشـندگان نواحی پانزده‌گانهٔ شهر در هماهنگی با اداره شـاروالی هرات، روند انتقال شماری زیادی از هم‌وطنان برگشت‌داده‌شده از جمهوری اسلامی ایران که از طریق مرز اسلام‌قلعه وارد کشور گردیده بودند، به‌گونهٔ منسـجم و هماهنگ به سطح شـهر هرات عملی گردید.

در این روند، حدود ۱۲۵۰ واسـطهٔ نقلیه مختلف‌النوع با مشـارکت مستقیم و داوطلبانهٔ باشـندگان محل، وکلای گذر، رؤسـای شـوراهای انکشافی و مسـئولان مربوطه، جهت انتقال بیش از ۷۰۰۰ نفر از مهاجرین برگشـتی از مرز اسلام قلعه به شهر، به‌کار گرفته شد.

هم‌زمان با انتقال این هموطنان، بسـته‌های کمکی شامل مواد غذایی، نوشـیدنی، اقلام بهداشتی و ارائهٔ خدمات صحی سـیار نیز توسط شماری از کاروان‌ها فراهم و توزیع گردیده است.

ادارهٔ شـاروالی هـرات با ابـراز سـپاس‌گزاری از حس مسـئولیت‌پذیری، فداکاری و همبسـتگی مـردم نواحی مختلف شـهر، این اقدام را نمونهٔ شـاخص از مشـارکت مردمی در مدیریت وضعیت‌های بشری دانسته و بر ادامهٔ همکاری میان مردم و نهادهای خدماتی تأکید می‌ورزد.

## شـاروال مزارشریف از جریان بازسـازی دروازه مزار-کابل دیدار و نظارت نمود



بلخ ۶۹

حافـظ عبدالرحمن همت، شـاروال مزارشـریـف از جریان بازسازی دروازه ورودی و خروجی مزار-کابل جهت بازسازی آن مطابق طرح و دیزاین انجنیران شاروالی دیدار و نظارت نمود.

شاروال مزارشریف برای مسئوول بازسـازی این پروژه جهت بازسـازی دروازه مطابق طرح و دیزاین انجنیران شاروالی به صورت اساسی و تکمیل آن در وقت معین تأکید نمود.

کار بازسـازی، تنویر و تزئین دروازه هـای ورودی و خروجی مزار- کابـل و مزار- شبرغان در شـهر مزارشریف از سـوی شاروالی به همکاری شرکت های تولیدی نیرو رنگ به هزینه ۳ میلیون افغانی آغاز گردیده است.

## د شکایتونو د څېړلو لپاره د مزارشریف ښار دولسګونو ناحیو د شکایت بکسونه وکتل شوه




بلخ ۷۰

د مزارشریف ښـــاروال حافظ عبدالرحمن همت په لارښونې د ښاروالۍ شکایتونو مدیر له لوري د شکایتونو د څېړلو او پلټلو لپاره د مزارشریف ښار دولســـګونو ناحیو د شکایتونو بکسونه وکتل شوه.

د شـــکایتونو څېړل او اوریدل د انحرافاتـــو د مخنیوي او د ستونزو حل له پاره یومهم امر دی؛ ځکه د ولس ستونزو ته په وخت رسېدنه کیږي او غږ یې اوریدل کیږي؛ د یادو صندوقونو څخه شـــکایتونه راټـــول او د حل په موخه به د ښـــاروالۍ له رهبرۍ او اړوند مسؤلینو سره شریک کړي.

## فراه ښـــاروالۍ ښار کې د ښـــاروالۍ د پروژو څخه لیدنه او څارنه  ترسره شوه



فراه ۷۱

فراه ښاروالۍ د څارنې او ارزونې امر مولوي محمد شاه "شاکر " ښار اړوند اتمې ناحیې کې د مسلخ ځای د جوړیدو له چارو څخه لیدنه او څارنه وکړه.

د څارنـــې او ارزونې امر فراه ښـــار د پرمختګ لپاره د پروژو د مسـؤلو کسانو څخه د کار پر وخت غوښتنه وکړه او وویل ټول هغه شرکتونه چې له ښـــاروالۍ سره د پروژو په برخه کې کار کوي مکلف دي چې د ښاروالۍ پروژې په ښه کیفیت او په تـــاکلي وخت پای ته ورســـوي؛ تر څو د ښـــار په ښه کې بدلون راشي.

د یادولـــو وړ ده چې اوس مهال  د مسـلخ ځـــای د ودانۍ رغنیزې چارې بشـــپړې شوې او دا مهال د شاوخوا د احاطې دیوال جوړیدل روان دي؛  چې تر بشـــپړیدو وروسته به دغه پروژه ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

# د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## افتتاح و آغاز کار پروژهٔ آســفالت جادهٔ ســمت شرق تعمیر ناحیهٔ نهم شــهر به هزینهٔ حدود ســه میلیون افغانی از بودجهٔ انکشافی شاروالی هرات

کار پروژهٔ آســفالت جادهٔ سمت شرق تعمیر ناحیهٔ نهم شهر به طول ۱۶۰ متر و عرض ۷ متر، به هزینهٔ مجموعی ۲٬۸۵۰٬۰۰۰ افغانی از بودجهٔ انکشافی شاروالی هرات، از سوی الحاج مولوی جلال‌الدین حقدوست، معاون ادارهٔ شاروالی هرات، با حضورداشت انجنیر محمد ایوب سیف الجهــاد رئیس تخنیکی و مســلکی، آمــر ناحیهٔ نهم، باشــندگان محل و شماری از مسئولان دیگر بخش‌های مربوطهٔ این اداره، توسط شرکت ساختمانی و سرک‌سازی قاری‌زاده صدیقی به‌گونهٔ رسمی افتتاح و آغاز گردید.

مســئول شرکت قراردادی پروژه اظهارداشت: کن کار این پروژه مطابق قرارداد و به‌گونه معیاری در زمان تعیین‌شده تکمیل خواهد شد.

در همیــن حــال، شماری از باشــندگان محل بــا ابراز خرســندی از آغاز کار این پروژه می‌گویند که تطبیق این پروژه ســبب کاهش گرد و خاک، ســهولت در رفت‌وآمد و زیباتر شدن چهرهٔ شهر می‌شود. آنان از ادارهٔ شاروالی به خاطر رسیدگی به مشکلات شهروندان شهر قدردانی کرده و خواهان تداوم بیشتر خدمات شهری گردیدند.

گفتنیســت قرار اســت کار این پروژه طی حدود دو ماه تقویمی از سوی شرکت قراردادی تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شود.

هرات ۷۲

## نظم بازار، نمایان‌گر فرهنگ ساکنین شهر است



بلخ ۷۳

امروز چهارشــنبه ۱۵ اســد ۱۴۰۴هـ.ش، برابر با ۱۲ صفر ۱۴۴۷هـ.ق، کمیته نظم شــهری کمیســیون نظم و توسعه شــهری، با همکاری و هماهنگی مدیریت‌های کنترول امور مارکیت‌ها، انضباط شهری و ناحیه اول، در ادامه فعالیت‌های روزمره خویش، اقدام به رفع انسداد پیاده‌روها و پاک‌سازی آن از وجود اموال و اجناس مزاحم توســط دکانداران و دســت فروشــان در جاده کوهی‌خانه، کوچه مارکیت و کوچه لیلون فروشی نمود.

منظم‌بودن امور بازار، بازتابی از فرهنگ شــهروندان و آگاهی آنان از اصول شهرنشینی است.

## کندهار ښــاروالۍ د دریمي ناحیې له متنفیذینو؛ علماوو؛ مشرانو او د ولس له اســتازو سره د همږغۍ او د اسلامي نظام د ملاتړ په موخه مجلس ترسره کړ





کندهار ۷۴

د کندهار ښاروالۍ دغونډو په تالار کې د دریمي ناحیې له متنفذینو؛ علماوو؛ مشرانو او ګذر وکیلانو سره د همږغۍ او د اسلامي نظام د ملاتړ په موخه مجلس ترسره شو؛ په دغه مجلس کــې د کندهار ښــاروالۍ تخنیکي او ســکتوري رئیس؛ د ښــاروالۍ حقوقي او شرعي مشاور؛ د شوراګانو او مجالسو مدیر؛ د دعوت او ارشــاد امر او مدرس؛ د ناحیې امر؛ د اســتخباراتي اداري اســتازي او د ناحیــې ګذر وکیلانو؛ مشرانو او متنفیذینو ګډون کړی وو.

یــاد مجلس د قرانکریم په تلاوت او د حدیث شریف په ویلو سره پیل شــو، په پیل کې د کندهار ښــاروالۍ حقوقي او شرعــي مشــاور د اسلامــي حکومتولۍ پر اساســاتو اود اسلامي نظام پر ارزښتونو هر اړخیزي خبري وکړې.

نوموړي وویل: دا د الله تعالــی یو لوی نعمت دی، چې د اسلامي نظــام تر چتر لاندې د خلکــو په خدمت مصروف کــړي یــو؛ د افغانســتان ازادېدو سره ســم اوس په ټوله اسلامــي نړۍ کې د اسلامي نظــام د پیاوړتیا هیلې ډیرې شوي دي.

هغــه زیاته کړه تر اسلامي نظام مخکې؛ په ټولنه کې ظلم؛ فساد او ناروا کړنې رواني وې؛ خو د نظام په حاکمیت سره دا ټول اعمال منعه شول.

نومــوړی څرګنده کړه؛ اسلامي نظام یــوازي د الله پاک د اوامرو تطبیق کوونکی نظام دی؛ چې انســانان له حرامو او منکراتو څخه منع کــوي او ټول احکام یې د شریعت برخه ده. هغه یادونه وکړه د اسلامي نظام غوښتنه داده چې موږ بایــد د الله تعالی پر دین ودرېږو؛ اتحــاد او اتفاق ته وده ورکــړو؛ نفرتونه او تفرقې له منځه یوســو؛ نوموړی اسلامي نظام د ټولو ګډ کور وباله او د ســاتني مســؤلیت یې د هر وګړي دیني او ملي وجیبه وبلله.

په پای کې نوموړی له خلکو وغوښــتل چې د اسلامي نظام لــه ټولو اړګانونو سره همکاري او ملاتړ وکړي او همدارنګه له ښــاروالۍ سره د صفایي محصول؛ سرسبزۍ او تنظیف په برخو کې فعاله ونډه واخلي.

وروســي د ښاروالۍ د دعوت او ارشاد مدرس ګډون والو ته د اسلامي نظام د ټینګښــت؛ د امر د اطاعت او د اسلامي وجایبو د ادا کولو په اړه مهمي او ارزښتناکي خبري وکړې.

وروسته د کندهار ښاروالۍ تخنیکي اوسکتوري رئیس ټولو برخه والو ته د ۱۴۰۴ کال د روانو؛ بشــپړو او پلان شــوو انکشافي پروژو په اړه مفصل معلومات وړاندې کړل.

د دې مجلــس پــه جریــان کــې د دریمــي ناحیــې د استخباراتي اداري استازي هم د ولس د استازو په وړاندې خبري وکــړې او له هغوی څخه یې د اسلامي نظام د ملاتړ او په چارو کې د همږغۍ غوښتنه وکړه.

په پای کې د دریمي ناحیې ګذر وکیلانو؛ مشرانو او علماوو دخپلو ســیمو ستونزې؛ نظریات او مشورې له مسؤلینو سره شریک کړل او مســؤلینو هم د هغوی خبرې واورېدې او د ستونزو دحل لپاره یې ډاډ ورکړ.

## د ښاري حکومتولۍ رئیس په مشرۍ د کارونو د چټکتیا په موخه ناسته ترسره شوه





بلخ ۷۵

د جلال آباد ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ رئیس مولوي سیف الرحمن شــیناوري په مشرۍ د ورځنیو چــارو د چټکتیا او د ښــاري فرهنګ په موخه د کمپاینونــو د ترسره کولو په موخه ناسته ترسره شوه.

د ښــاري حکومتولۍ مسوولینو په ښــار کې د ګنې ګوڼې د کمولــو او چارو د غوره ترسره کولو په موخــه تاکید وکړ او په راتلونکــې یې د ګذر وکیلانو سره په همغږۍ د عامه پوهاوي کمپاینونو پلانونه جوړ کړل.

## د لغمان ښــار د اصنافو استازو ستونزې او غوښتنې د حل په موخه واورېدل شوې

د مهترلام ښــار د بېلابېلو اصنافو اســتازو نن خپلې یو لړ ستونزې او غوښتنې د مهترلام ښاروال الحاج مولوي رحمت الله شــهامت او د لغمان ۲۰۱ خالــد بن ولید قول اردو د ارکان رئیس حافظ انځرګل عبدالله سره شریکې کړې.

په دې لیدنه کې د اصنافو استازو د خپلو ورځنیو فعالیتونو پر مهال له شته ســتونزو خنډونو، اړتیاوو او څینو موجوده مشکلاتو تفصیل وړاندې کړ، او د حل غوښتنه یې وکړه.

ښــاروال له ټولو ګډونوالو مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ چې د دوی ستونزې به په تدریجي ډول وڅېړل شي او د حل لپاره به لازم ګامونه پورته شي.

د قــول اردو ارکان رئیــس هم د اصنافو اســتازو خبرې واورېدې او ډاډ یې ورکړ چې د اړوندو ستونزو په هوارۍ کې به له اړوندو ادارو سره همغږي وشي.

یاده ناســته چې د ښاروالۍ په مقام کې برابره شوې وه په دعاء سره پایته ورسیده.

هرات ۷۶

ګردېز ښار په ګوټ ګوټ کې د ښار زرغونتیا او ښیرازۍ په نیت د ونو خروبولو چاره په ښه ډول رواني دي.
ګردېز ښاروالۍ سرسبزۍ مدیریت پدې برخه کې د خپلو امکاناتو اعظمي استفاده کړې او د ښار سرسبزو برخو د اوبه کولو چارې، هره ورځ په دوامداره توګه پر مخ وړي.

پکتیا ۵۸